# الصافات

**مکی سورة دی ۱۸۲ آیتونه لری**
**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

## وَٱلصَّٰٓفَّٰتِ صَفّٗا ﴿١﴾

**قسم په صف تړونکو( پرښتو، لمونځ کوونکو او مجاهدینو) چې ( تینګ او مستحکم) صف يې تړلی دی.**

## فَٱلزَّٰجِرَٰتِ زَجۡرٗا ﴿٢﴾

**او منع کوونکو( نیکانو او اسلامی مبلغینو چې نور انسانان هم له ګناهونو څخه) په شدت سره راګرځوی( او په هغو شړونکو پرښتو چې شیطان له استراق السمع  څخه زغلوی).**

## فَٱلتَّٰلِيَٰتِ ذِكۡرًا ﴿٣﴾

**او (د  الهی آیتونو او احکامو)په تلاوت کوونکو.**

## إِنَّ إِلَٰهَكُمۡ لَوَٰحِدٞ ﴿٤﴾

**چې بې له شکه ستاسو خدای،لاشریک ذات( الله تعالی) دی.**

## رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا وَرَبُّ ٱلۡمَشَٰرِقِ ﴿٥﴾

**د آسمانونو او ځمکې او د هغو تر منځ د  شته (موجوداتو او مخلوقاتو او بیلابیلو) مشارقو( او مغاربو) رب.**

## إِنَّا زَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنۡيَا بِزِينَةٍ ٱلۡكَوَاكِبِ ﴿٦﴾

**بیشکه چې مونږ د دنیا آسمان د ستورو په ګاڼه سینګار کړی.**

## وَحِفۡظٗا مِّن كُلِّ شَيۡطَٰنٖ مَّارِدٖ ﴿٧﴾

**او هغه مو د سرکش او باغی شیطان څخه په امن ساتلی دی.**

## لَّا يَسَّمَّعُونَ إِلَى ٱلۡمَلَإِ ٱلۡأَعۡلَىٰ وَيُقۡذَفُونَ مِن كُلِّ جَانِبٖ ﴿٨﴾

**هغوی نشی کولی چې د مکرمو او مقربو مقاماتو خبرې واوری( او کله چې د اوریدو او غوږ نیولو هڅه وکړی) له هرې خوا د (شهابی) شغلو د  ضرباتو لاندې نیول کیږی.**

## دُحُورٗاۖ وَلَهُمۡ عَذَابٞ وَاصِبٌ ﴿٩﴾

**ترځو يې خوار او ذليل وزغلوی او تلپاتې عذاب يې هم په برخه دی.**

إِلَّا مَنْ خَطِفَ الْخَطْفَةَ فَأَتْبَعَهُ شِهَابٌ ثَاقِبٌ ﴿١٠﴾

**خو په همدغو منډو او ځغليدو کې يوه نيمه خبره له ځان سره واخلی (او وتښتی) چې بيا يې هم د اور مرمۍ تعقيبوی.**

فَاسْتَفْتِهِمْ أَهُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَم مَّنْ خَلَقْنَا ۚ إِنَّا خَلَقْنَاهُم مِّن طِينٍ
لَّازِبٍ ﴿١١﴾

**نو (د قيامت له منکرينو نه) وپوښته چې آيا د هغوی پيدايښت مشکل او ستونزمن دی او که( د پرښتو، آسمانونو، ځمکې، غرونو او نورو لويو کرو او مخلوقاتو) خلقت، چې مونږ پيدا کړی؟ ( بې له شکه د دغو منکرينو خلقت ډير آسان دی) ځکه چې مونږ هغوی له سرښناکې خټې پيدا کړی دی.**

بَلْ عَجِبْتَ وَيَسْخَرُونَ ﴿١٢﴾

**بلکه( د هغوی انکار او تکذيب) تاته د حيرانتيا او تعجب وړ دی؟ حال دا چې هغوی( په الهی احکامو او آيتونو هم) ملنډې وهی.**

وَإِذَا ذُكِّرُوا لَا يَذْكُرُونَ ﴿١٣﴾

**او چې ورته نصيحت وشی نو پند او نصيحت هم نه منی.**

وَإِذَا رَأَوْا آيَةً يَسْتَسْخِرُونَ ﴿١٤﴾

**او چې کومه معجزه ووينی، بې دريغه ورباندې ملنډې وهی( او نور خلک هم انکار او ملنډو وهلو ته هڅوی).**

وَقَالُوا إِنْ هَٰذَا إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿١٥﴾

**او(الهی آيتونو او معجزو ته) د جادو او کوډو نوم ورکوی.**

أَإِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَامًا أَإِنَّا لَمَبْعُوثُونَ ﴿١٦﴾

**وايی کله چې مونږ له مرګه وروسته خاورې او هډوکی شو نو آيا بيا به راژوندی کيږو؟**

أَوَآبَاؤُنَا الْأَوَّلُونَ ﴿١٧﴾

**او آيا زمونږ پلرونه او نيکونه به هم (راژوندی کيږی)؟**

قُلۡ نَعَمۡ وَأَنتُمۡ دَٰخِرُونَ ١٨

ورته ووایه: هو.( بیرته به راژوندی کیږئ) په داسې حال کې( چې د خپل کفر او انکار په سزا کې به مو) خواری او ذلت هم په برخه وی.

فَإِنَّمَا هِيَ زَجۡرَةٞ وَٰحِدَةٞ فَإِذَا هُمۡ يَنظُرُونَ ١٩

( قیامت خو بس د صور د شپیلۍ) یوه چیغه ده چې ورسره سم به ټول راژوندی شی( او په حیرت او دهشت به محشر ته) ګوری.

وَقَالُواْ يَٰوَيۡلَنَا هَٰذَا يَوۡمُ ٱلدِّينِ ٢٠

او وایی به: های تباهی ده په موږ. دا خو د جزا( مکافات او مجازات) ورځ ده( چې راباندې راغله).

هَٰذَا يَوۡمُ ٱلۡفَصۡلِ ٱلَّذِي كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ ٢١

( پرښتې به ورته وایی) هو دا هماغه (د حق او باطل تر منځ) د جدایی او تفکیک ورځ ده چې تاسو به یې تل له حقیقته انکار کاوه.

۞ٱحۡشُرُواْ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ وَأَزۡوَٰجَهُمۡ وَمَا كَانُواْ يَعۡبُدُونَ ٢٢

( الله تعالی به اعلان وکړی:) راوغواړئ هغه ظالمان او ملګری یې او هغه باطل او خودساخته خدایان یې چې دوی یې عبادت کاوه

مِن دُونِ ٱللَّهِ فَٱهۡدُوهُمۡ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلۡجَحِيمِ ٢٣

د الله تعالی په مقابل کې. نو ټول د دوزخ په لور روان کړئ.

وَقِفُوهُمۡۖ إِنَّهُم مَّسۡـُٔولُونَ ٢٤

ویې دروئ چې( د اقوالو او افعالو) پوښتنې ترې وشی.

مَا لَكُمۡ لَا تَنَاصَرُونَ ٢٥

( بیا به ترې وپوښتل شی) څه درباندې شوی( چې له عذابه د خلاصون لپاره) د یو بل مرسته نه کوئ؟

بَلۡ هُمُ ٱلۡيَوۡمَ مُسۡتَسۡلِمُونَ ٢٦

( نه یوازې دا چې له یو بل سره مرسته نه کوی)بلکه حق ته(په عاجزئ او تواضع)غاړه ایښودونکی ښکاری.

وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ ﴿٢٧﴾

يو بل ته به مخ اړوی او پوښتنه به کوی( چې دا څه حال دی؟)

قَالُوا إِنَّكُمْ كُنتُمْ تَأْتُونَنَا عَنِ الْيَمِينِ ﴿٢٨﴾

( نو گمراه شوی پیروان به خپلو گمراه رهبرانو ته وایی): همدا تاسو واست چې د ښه نیت او مخلصینو په نوم به مونږ ته راتلی( خو اصل مقصد مو زمونږ تیرویستل او بې لارې کول وو).

قَالُوا بَل لَّمْ تَكُونُوا مُؤْمِنِينَ ﴿٢٩﴾

( رهبران به یې ورته وایی، زمونږ گناه نشته) بلکه تاسو پخپله ایمان راوړونکی نه واست.

وَمَا كَانَ لَنَا عَلَيْكُم مِّن سُلْطَانٍ ۖ بَلْ كُنتُمْ قَوْمًا طَاغِينَ ﴿٣٠﴾

او مونږ په تاسو هیڅ زور او سلطه نه درلوده بلکه تاسو پخپله یوه سرکشه او باغی ډله واست.

فَحَقَّ عَلَيْنَا قَوْلُ رَبِّنَا ۖ إِنَّا لَذَائِقُونَ ﴿٣١﴾

اوس زمونږ د عذاب فرمان زمونږ د رب له خوا صادر شوی او مونږ ته باید عذاب راکړی شی.

فَأَغْوَيْنَاكُمْ إِنَّا كُنَّا غَاوِينَ ﴿٣٢﴾

( ستاسو د گمراهئ اصلی وجه ستاسو خپله ناپوهی او تعصب و) نو مونږ بې لارې کړئ ځکه مونږ پخپله هم د گمراهی په شاړو سر وو.

فَإِنَّهُمْ يَوْمَئِذٍ فِي الْعَذَابِ مُشْتَرِكُونَ ﴿٣٣﴾

نو نن به دوی ټولو ته یو شان عذاب ورکړی کیږی.

إِنَّا كَذَٰلِكَ نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِينَ ﴿٣٤﴾

دا د ټولو مجرمینو په مقابل کې زمونږ کړنلاره ده.

إِنَّهُمْ كَانُوا إِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ يَسْتَكْبِرُونَ ﴿٣٥﴾

ځکه همدوی وو، چې د «لا اله الا الله» کلمه به یې په تکبر او غرور سره ردوله.

وَيَقُولُونَ أَئِنَّا لَتَارِكُو آلِهَتِنَا لِشَاعِرٍ مَّجْنُونٍ ﴿٣٦﴾

او ويل به يې چې آيا د يوه ليونی شاعر په خبره، له خپلو خدايانو لاس واخلو؟

بَلۡ جَآءَ بِٱلۡحَقِّ وَصَدَّقَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿٣٧﴾

( الله تعالی د دغو منکرانو د ترديد لپاره وفرمايل: نه- داسې نه ده چې تاسو يې وايی بلکه دا پيغمبر)د حق( له دعوت سره) راغلی او پخوانی پيغمبران هم تائيدوی.

إِنَّكُمۡ لَذَآئِقُواْ ٱلۡعَذَابِ ٱلۡأَلِيمِ ﴿٣٨﴾

بې له شکه به تاسو( جاهلانو) ته دردوونکی عذاب درکړی شی.

وَمَا تُجۡزَوۡنَ إِلَّا مَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿٣٩﴾

او دا به مو صرف د خپلو کړنو سزا وی .

إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلۡمُخۡلَصِينَ ﴿٤٠﴾

يوازې د الله تعالی مخلص بندګان به( له عذابه په امن وی).

أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ رِزۡقٞ مَّعۡلُومٞ ﴿٤١﴾

هغوی ته به ځانګړی رزق ورکړی کيږی.

فَوَٰكِهُۖ وَهُم مُّكۡرَمُونَ ﴿٤٢﴾

ډول ډول ميوې به ورته له خاص احترام او درناوی سره راوړل کيږی.

فِي جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ﴿٤٣﴾

له نعمتونو ډکو په ډکو جنتونو کې

عَلَىٰ سُرُرٖ مُّتَقَٰبِلِينَ ﴿٤٤﴾

به په(ښکلو او مزينو) تختونو يو بل ته مخامخ ناست وی.

يُطَافُ عَلَيۡهِم بِكَأۡسٖ مِّن مَّعِينِۭ ﴿٤٥﴾

د شرابو له چينو نه ډک جامونه به وربانديې ګرځول کيږی.

بَيۡضَآءَ لَذَّةٖ لِّلشَّٰرِبِينَ ﴿٤٦﴾

سپین او روښانه( ښکاک) چې د ښښونکو لپاره ډېر خوندور دی.

لَا فِيهَا غَوْلٌ وَلَا هُمْ عَنْهَا يُنزَفُونَ ﴿٤٧﴾

( داسې شراب) چې نه به په کې مستي او بې هوشي وی او نه قی او سردردی.

وَعِندَهُمْ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرْفِ عِينٌ ﴿٤٨﴾

او تر څنګ به يې د ښکلو سترګو لرونکی حياناکې او عفيفې حورې ناستې وی.

كَأَنَّهُنَّ بَيْضٌ مَّكْنُونٌ ﴿٤٩﴾

( داسې به سپينې او زېړه راکښونکې وی لکه له ګرد او غبار نه) پټې او محفوظې ساتل شوی هګۍ چې هيڅا لاس نه وی وروړی.

فَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَآءَلُونَ ﴿٥٠﴾

جنتيان به سره د يو بل( د حال احوال) پوښتنې کوی.

قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ إِنِّى كَانَ لِى قَرِينٌ ﴿٥١﴾

يو به پکې وايی: ما( په دنيا کې) يو ملګری درلود( چې له بعث بعدالموت نه منکر و).

يَقُولُ أَءِنَّكَ لَمِنَ ٱلْمُصَدِّقِينَ ﴿٥٢﴾

( تل به يې په حيرانتيا سره راته) ويل: آيا ته (په قيامت) باورمن يې؟

أَءِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَٰمًا أَءِنَّا لَمَدِينُونَ ﴿٥٣﴾

آيا مونږ چې مړه شو او هډوکی مو له خاورو سره خاورې شی( نو بيا به راژوندی کيږو؟ او) جزا او سزا به راکړی کيږی؟

قَالَ هَلْ أَنتُم مُّطَّلِعُونَ ﴿٥٤﴾

( وروسته به جنتی مؤمن خپلو جنتی دوستانو ته وايی:) آيا غواړئ چې د هغه( منکر ناوړه) حال وګورئ؟

فَٱطَّلَعَ فَرَءَاهُ فِى سَوَآءِ ٱلْجَحِيمِ ﴿٥٥﴾

نو (دغه جنتی) ته به د هغه( د منکر ملګری) حال ور وښودل شی چې د دوزخ په تل کې پروت دی.

قَالَ تَٱللَّهِ إِن كِدتَّ لَتُرْدِينِ ﴿٥٦﴾

( جنتی) به ورته ووايی: قسم په خدای، نږدې وه چې زه دې تباه کړی وی.

وَلَوۡلَا نِعۡمَةُ رَبِّي لَكُنتُ مِنَ ٱلۡمُحۡضَرِينَ ٥٧

**که له ما سره د خپل رب توفیق او رحمت نه وی نو زه به هم (اوس ستا سره یو ځای په دوزخ کې) پروت وی.**

أَفَمَا نَحۡنُ بِمَيِّتِينَ ٥٨

**( بیا به خپلو جنتی دوستانو ته په ډیره خوښۍ ووایی: آیا مونږ به تل په جنت کې یو او)مرګ به نه لرو؟**

إِلَّا مَوۡتَتَنَا ٱلۡأُولَىٰ وَمَا نَحۡنُ بِمُعَذَّبِينَ ٥٩

**له هماغه لومړی مرګ نه غیر( چې په دنیا کې راباندې راغلی و، بل مرګ به رانشی) او هیڅکله به هم عذاب و نه وینو( دا د الله تعالی څومره لویه مهربانی او رحمت دی).**

إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ٦٠

**بیشکه چې دا هماغه لویه بریا ده.**

لِمِثۡلِ هَٰذَا فَلۡيَعۡمَلِ ٱلۡعَٰمِلُونَ ٦١

**نو (د دغې سترې او تلپاتې بریا د تر لاسه کولو لپاره) باید هر عمل کوونکی خپل عمل( هڅو، کوښښونو، ایثار او فداکارۍ) ته دوام ورکړی.**

أَذَٰلِكَ خَيۡرٞ نُّزُلًا أَمۡ شَجَرَةُ ٱلزَّقُّومِ ٦٢

**آیا دغه د میلمستیا لپاره (له نعمتونو ډک تیار شوی ابدی جنت) ښه دی که د زقوم ونه؟**

إِنَّا جَعَلۡنَٰهَا فِتۡنَةٗ لِّلظَّٰلِمِينَ ٦٣

**مونږ دغه ونه د ظالمانو لپاره د عذاب او شکنجې وسیله کړې ده.**

إِنَّهَا شَجَرَةٞ تَخۡرُجُ فِيٓ أَصۡلِ ٱلۡجَحِيمِ ٦٤

**هغه ونه چې د دوزخ په تل کې راشنه کیږی.**

طَلۡعُهَا كَأَنَّهُۥ رُءُوسُ ٱلشَّيَٰطِينِ ٦٥

**غوټۍ یې د شیطانانو د سرونو په شان( بد شکله) دی.**

فَإِنَّهُمۡ لَأٓكِلُونَ مِنۡهَا فَمَالِـُٔونَ مِنۡهَا ٱلۡبُطُونَ ٦٦

**نو دغه( لجوج منکران) به یې خوری او خپل نسونه به ورباندې ډکوی.**

ثُمَّ إِنَّ لَهُمْ عَلَيْهَا لَشَوْبًا مِّنْ حَمِيمٍ ﴿٦٧﴾

بیا به جوشیدلي او بدبویه اوبه هم ورباندې ګډېل کېږی .

ثُمَّ إِنَّ مَرْجِعَهُمْ لَإِلَى ٱلْجَحِيمِ ﴿٦٨﴾

بیا به بیرته دوزخ ته ور ګرځول کېږی .

إِنَّهُمْ أَلْفَوْا۟ ءَابَآءَهُمْ ضَآلِّينَ ﴿٦٩﴾

( دغه اخروی عذاب ورته ځکه ورکړی کېږی چې) دوی خپل پلرونه ګمراه ولیدل.

فَهُمْ عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِمْ يُهْرَعُونَ ﴿٧٠﴾

( او سره له دې چې د هغوی په ګمراهی پوهیدل خو بیا هم) په تلوار او عجولانه توګه د هغوی په پل روان شول.

وَلَقَدْ ضَلَّ قَبْلَهُمْ أَكْثَرُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٧١﴾

او له دوی نه وړاندې ډیر نور خلک هم بې لارې شوې وو.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا فِيهِم مُّنذِرِينَ ﴿٧٢﴾

او بې له شکه مونږ هغوی ته خبر ورکوونکی او تنبیه ورکوونکی( پیغمبران) هم وراستولی وو.

فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُنذَرِينَ ﴿٧٣﴾

نو وګوره چې د تنبیه کړی شویو انجام څه و؟

إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴿٧٤﴾

پرته د الله تعالی له مخلصو بندګانو څخه( نور ټول تباه شول).

وَلَقَدْ نَادَىٰنَا نُوحٌ فَلَنِعْمَ ٱلْمُجِيبُونَ ﴿٧٥﴾

او نوح(خپل قوم ته له شاوخوا زر کالو پند او نصیحت نه وروسته د مایوسی په حال کې) مونږ ته فریاد او استغاثه وکړه( «انی مغلوب فانتصر» او مونږ یې فریاد واورید، بې له شکه چې الله تعالی) د دعا او فریاد تر ټولو ښه اوریدونکی او قبلوونکی دی.

وَنَجَّيْنَـٰهُ وَأَهْلَهُۥ مِنَ ٱلْكَرْبِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٧٦﴾

او هغه مو له اهل و عيال سره يې له لوی غم او کړاو نه وژغوره.

وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهُۥ هُمُ ٱلْبَاقِينَ ﴿٧٧﴾

او د هغه ځوځات مو په( دنيا کې) پاتې کړ.

وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِى ٱلْـَٔاخِرِينَ ﴿٧٨﴾

او په وروستيو نسلونو کې مو هغه ته (نيک نوم او شهرت او د ثنا او مدحې تلپاتې وياړ) ورپه برخه کړ.

سَلَـٰمٌ عَلَىٰ نُوحٍ فِى ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴿٧٩﴾

سلام دې وی په نوح په ټولو نړيوالو کې.

إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٨٠﴾

رښتيا چې مونږ نيکو کارانو او محسنانو ته همدا ډول اجر او مکافات ورکوو.

إِنَّهُۥ مِنْ عِبَادِنَا ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٨١﴾

بې له شکه چې هغه زمونږ له مؤمنو بندګانو څخه و.

ثُمَّ أَغْرَقْنَا ٱلْـَٔاخَرِينَ ﴿٨٢﴾

بيا مو هغه نور( کافران) ډوب کړل.

۞ وَإِنَّ مِن شِيعَتِهِۦ لَإِبْرَٰهِيمَ ﴿٨٣﴾

او د نوح له پيروانو څخه يو هم ابراهيم و.

إِذْ جَآءَ رَبَّهُۥ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ ﴿٨٤﴾

چې په پاک زړه يې خپل رب ته رجوع وکړه.

إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِۦ مَاذَا تَعْبُدُونَ ﴿٨٥﴾

خپل پلار او قوم ته يې وويل: دا څه دی( او کمال او قدرت يې څه دی) چې تاسو يې عبادت کوی؟

أَئِفْكًا ءَالِهَةً دُونَ ٱللَّهِ تُرِيدُونَ ﴿٨٦﴾

آیا د الله تعالی په ځای مو باطل خدایان غوره کړی دی؟

فَمَا ظَنُّكُم بِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٨٧﴾

( او چې د دغو بتانو عبادت کوئ نو) د رب العالمین په باب مو عقیده څه ده؟

فَنَظَرَ نَظْرَةً فِى ٱلنُّجُومِ ﴿٨٨﴾

( او کله چه خلکو ابراهیم ته د اختر په مراسمو کې د ګډون بلنه ورکړه)نو د فکر او سوچ لپاره یې پورته وکتل.

فَقَالَ إِنِّى سَقِيمٌ ﴿٨٩﴾

او ویې ویل: زه نن ناروغ یم.

فَتَوَلَّوْا۟ عَنْهُ مُدْبِرِينَ ﴿٩٠﴾

نو خلک ترې پخپله مخه لاړل.

فَرَاغَ إِلَىٰٓ ءَالِهَتِهِمْ فَقَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ ﴿٩١﴾

دی په پټه د بتانو( مندر) ته ننوت ( او د ملنډو په توګه یې بتانو ته) وویل:

مَا لَكُمْ لَا تَنطِقُونَ ﴿٩٢﴾

څه درباندې شوی چې خبرې نه کوئ؟

فَرَاغَ عَلَيْهِمْ ضَرْبًۢا بِٱلْيَمِينِ ﴿٩٣﴾

بیا یې پرې شروع وکړه، په قوت او شدت سره یې ووهل (او ټوټه ټوټه یې کړل).

فَأَقْبَلُوٓا۟ إِلَيْهِ يَزِفُّونَ ﴿٩٤﴾

خلک په منډه ورته راورسیدل.

قَالَ أَتَعْبُدُونَ مَا تَنْحِتُونَ ﴿٩٥﴾

( ابراهیم) ورته وویل: آیا د هغو شیانو عبادت کوئ چې پخپلو لاسو مو تراشلي او جوړ کړي دي.

وَٱللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ ﴿٩٦﴾

( ښه پوهیږئ چې) تاسو او ستاسو جوړ شوی( بتان) ټول الله تعالی پیدا کړي دي.

قَالُواْ ٱبْنُواْ لَهُۥ بُنْيَٰنًا فَأَلْقُوهُ فِى ٱلْجَحِيمِ ﴿٩٧﴾

د هغوی( مشرانو) د یوه داسې لوی داش د جوړولو امر وکړ( چې د زیات خشاک گنجایش ولری او ابراهیم) دې د همدغه اور لمبو ته ورغوزار کړی شی.

فَأَرَادُواْ بِهِۦ كَيْدًا فَجَعَلْنَٰهُمُ ٱلْأَسْفَلِينَ ﴿٩٨﴾

په دې ډول یې د هغه( د سوځولو لپاره) لوی پلان جوړ کړ خو مونږ ناکام او دوی مو له ذلت سره مخامخ کړل.

وَقَالَ إِنِّى ذَاهِبٌ إِلَىٰ رَبِّى سَيَهْدِينِ ﴿٩٩﴾

(او کله چه له دغې سترې ستونزې او کړاو نه خلاص شو، او له خپل قوم او پلار نه هم مایوس او ناامیده شو، او د هغوی له خوا وربانديې د ژوند ساحه راتنګه شوه نو د هجرت اراده یې وکړه او)ویې ویل: زه د خپل رب حضور ته ځم هغه به راته لارښوونه وکړی( او الله تعالی هم ورته شام ته د تګ شرایط برابر کړل).

رَبِّ هَبْ لِى مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١٠٠﴾

( بیا یې دعا وکړه:) ای ربه! (کور کهول را ځخه پاتې شول نو) نیک او صالح زوی راپه برخه کړه( چې په دینی چارو کې زما مرسته وکړی او د نبوت سلسله وربانديې دوامداره وساته).

فَبَشَّرْنَٰهُ بِغُلَٰمٍ حَلِيمٍ ﴿١٠١﴾

نو مونږ هغه ته د یوه صبر کوونکی او زغم لرونکی زوی( اسماعیل علیه السلام د زیږیدو) زیری ورکړ.

فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ ٱلسَّعْىَ قَالَ يَٰبُنَىَّ إِنِّىٓ أَرَىٰ فِى ٱلْمَنَامِ أَنِّىٓ أَذْبَحُكَ
فَٱنظُرْ مَاذَا تَرَىٰ ۚ قَالَ يَٰٓأَبَتِ ٱفْعَلْ مَا تُؤْمَرُ ۖ سَتَجِدُنِىٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ
مِنَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿١٠٢﴾

کله چې( اسماعیل) له ده سره د منډو ترړو( او مرستې) عمر ته ورسید، پلار یې ورته وویل: ځویه! خوب مې لیده چې ذبح کوم دې، ځه پکې وایې؟ . ځوی یې ورته وویل: څه چې درته امر شوی عملی یې کړه، که د الله تعالی رضا وی، وبه مې وینې چې (د خپل رب د حکم په وړاندې) صبر کوونکی یم .

فَلَمَّآ أَسْلَمَا وَتَلَّهُۥ لِلْجَبِينِ ﴿١٠٣﴾

نو کله چې دواړه پلار او ځوی( د الله تعالی رضا او حکم ته) تسلیم شول او( ابراهیم) خپل زوی ( د ذبح کولو لپاره) پړمخې په ځمکه څملاوه( تر څو یې د پلار ولی مینه لاس و نه لرزوی او د الهی حکم په تعمیل کې ځنډ واقع نشی).

وَنَٰدَيۡنَٰهُ أَن يَٰٓإِبۡرَٰهِيمُ ﴿١٠٤﴾

او مونږ وربانديې غږ کړ چې ای ابراهیمه!

قَدۡ صَدَّقۡتَ ٱلرُّءۡيَآۚ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿١٠٥﴾

تا خپل خوب عملی کړ( او د خپل رب فرمان دې ومانه، مونږ ستا قربانی قبوله کړه، ځکه زمونږ هدف ستا د ځوی ذبح کول نه و، بلکه دغسې سخت احکام د ازمیښت لپاره صادروو، او صبر کوونکی او ثابت قدم شخصیتونه وربانديې عامه منظر ته وړپیژنو) په همدې توګه مونږ نیکوکارانو ته اجر او ثواب ورکوو .

إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلۡبَلَٰٓؤُاْ ٱلۡمُبِينُ ﴿١٠٦﴾

ببشکه چې دا( ستا د صبر او طاعت) څرګنده ازمو ینه وه (او ته له دغې ازموینې بریالی ووتې).

وَفَدَيۡنَٰهُ بِذِبۡحٍ عَظِيمٖ ﴿١٠٧﴾

او( اسماعیل) مو د لویې قربانی( جنتی پسه) په فدیه کې وژغوره.

وَتَرَكۡنَا عَلَيۡهِ فِي ٱلۡأٓخِرِينَ ﴿١٠٨﴾

او د ( ابراهیم) لپاره مو په راتلونکو نسلونو کې (نیک نوم او شهرت) پریښود.

سَلَٰمٌ عَلَىٰٓ إِبۡرَٰهِيمَ ﴿١٠٩﴾

سلام دې وی په ابراهیم.

كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿١١٠﴾

په همدې توګه مونږ نیکانو او محسنینو ته اجر ورکوو.

إِنَّهُۥ مِنۡ عِبَادِنَا ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١١١﴾

بیشکه چې هغه زمونږ له نیکو بندګانو څخه و.

وَبَشَّرۡنَٰهُ بِإِسۡحَٰقَ نَبِيّٗا مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١١٢﴾

او هغه ته مو د اسحاق( د زیږیدو) زیری ورکړ چې له صالحو پیغمبرانو څخه و.

وَبَٰرَكۡنَا عَلَيۡهِ وَعَلَىٰٓ إِسۡحَٰقَۚ وَمِن ذُرِّيَّتِهِمَا مُحۡسِنٞ وَظَالِمٞ لِّنَفۡسِهِۦ
مُبِينٞ ﴿١١٣﴾

او په هغه او اسحاق مو برکت ولوراوه، او د هغو دواړو له اولادې څخه ځيني نيکان او ځيني نور بيا پخپلو ځانونو ظالمان دی.

وَلَقَدۡ مَنَنَّا عَلَىٰ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ﴿١١٤﴾

او په موسی او هارون مو د خپل نعمت پيرزوينه وکړه.

وَنَجَّيۡنَٰهُمَا وَقَوۡمَهُمَا مِنَ ٱلۡكَرۡبِ ٱلۡعَظِيمِ ﴿١١٥﴾

او دواړه مو له قوم سره يې يو ځای له لوی غم او کړاو( يعنی د فرعونيانو له مظالمو) نه وژغورل( او د قلزم له بحيرې نه مو روغ رمټ تير کړل).

وَنَصَرۡنَٰهُمۡ فَكَانُواْ هُمُ ٱلۡغَٰلِبِينَ ﴿١١٦﴾

او مرسته مو ورسره وکړه تر هغه چې( په قبطيانو) برلاسی شول( او د هغوی ټولي ځمکي او جايداونه يې لاس ته ورغلل).

وَءَاتَيۡنَٰهُمَا ٱلۡكِتَٰبَ ٱلۡمُسۡتَبِينَ ﴿١١٧﴾

او دواړو ته مو روښانه کتاب( تورات) ورکړ( چې د الله تعالی احکام پکې په پوره تفصيل سره) بيان شوی وو.

وَهَدَيۡنَٰهُمَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ﴿١١٨﴾

او دواړوته مو د مستقيمې لارې لارښوونه وکړه( او په نيکو چارو او اقوالو کې مو ورته ثبات او استقامت هم په برخه کړ).

وَتَرَكۡنَا عَلَيۡهِمَا فِي ٱلۡأٓخِرِينَ ﴿١١٩﴾

او په راتلونکو نسلونو کې مو په نيک نوم او شهرت ياد کړل.

سَلَٰمٌ عَلَىٰ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ﴿١٢٠﴾

سلام دې وی په موسی او هارون.

إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿١٢١﴾

او په همدې توګه مونږ نيکوکارانو ته اجر او بدله ورکوو.

إِنَّهُمَا مِنْ عِبَادِنَا ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٢٢﴾

**بیشکه چې هغوی دواړه زمونږ مؤمن بندګان وو.**

وَإِنَّ إِلْيَاسَ لَمِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٢٣﴾

**او الیاس هم د پیغمبرانو له ډلې څخه و.**

إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٢٤﴾

**کله چې یې خپل قوم ته وویل: آیا له( شرک او سرکشۍ نه) لاس نه اخلئ؟**

أَتَدْعُونَ بَعْلًا وَتَذَرُونَ أَحْسَنَ ٱلْخَٰلِقِينَ ﴿١٢٥﴾

**آیا د بعل (بت) عبادت کوئ او احسن الخالقین( رب) مو هیر کړی دی؟**

ٱللَّهَ رَبَّكُمْ وَرَبَّ ءَابَآئِكُمُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٢٦﴾

**الله تعالی چې ستاسو رب او ستاسو د پلرونو او نیکونو رب دی.**

فَكَذَّبُوهُ فَإِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ ﴿١٢٧﴾

**نو قوم یې هغه دروغجن وګاڼه او له همدې امله دوی(عذاب ته) احضاریدونکی دی.**

إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴿١٢٨﴾

**خو د الله تعالی مخلص بندګان به( چې په الیاس علیه السلام یې ایمان راوړی و، له سزا نه په امن وی).**

وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِى ٱلْءَاخِرِينَ ﴿١٢٩﴾

**او په راتلونکو نسلونکو کې مو د هغه لپاره نیک نوم او نښان پریښود.**

سَلَٰمٌ عَلَىٰٓ إِلْ يَاسِينَ ﴿١٣٠﴾

**سلام دې وی په ال یاسین.**

إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٣١﴾

**او په همدې توګه مونږ نیکانو او محسنینو ته اجر ورکوو.**

إِنَّهُۥ مِنْ عِبَادِنَا ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٣٢﴾

**بې له شکه چې هغه زمونږ په مؤمنو بندګانو کې شامل و.**

وَإِنَّ لُوطًا لَّمِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿١٣٣﴾

او لوط هم( زمونږ) له پیغمبرانو څخه و.

إِذۡ نَجَّيۡنَٰهُ وَأَهۡلَهُۥٓ أَجۡمَعِينَ ﴿١٣٤﴾

کله چې مو له کورنۍ سره یو ځای وژغوره.

إِلَّا عَجُوزًا فِي ٱلۡغَٰبِرِينَ ﴿١٣٥﴾

خو یوه بوډۍ ښځه یې له ښاریانو سره پریښودل شوه.

ثُمَّ دَمَّرۡنَا ٱلۡأٓخَرِينَ ﴿١٣٦﴾

بیا مو پاتې شوی له یوې مخې هلاک کړل.

وَإِنَّكُمۡ لَتَمُرُّونَ عَلَيۡهِم مُّصۡبِحِينَ ﴿١٣٧﴾

او( ای د مکې معظمې اوسیدونکو!) تاسو هر سهار( د خپل سفر په لاره د لوط قوم د تباه شوی ښار په کنډوالو) تیریږۍ راتیریږۍ.

وَبِٱلَّيۡلِۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴿١٣٨﴾

او د شپې( هم وربانډې ځی راځی او وینې یې)، نو آیا له عقل نه کار نه اخلۍ؟( او نه پوهیږۍ چې هر باغی او نافرمان قوم به له همدغه ډول عاقبت او انجام سره مخامخ وی).

وَإِنَّ يُونُسَ لَمِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿١٣٩﴾

او یونس هم( له الهی) پیغمبرانو څخه و.

إِذۡ أَبَقَ إِلَى ٱلۡفُلۡكِ ٱلۡمَشۡحُونِ ﴿١٤٠﴾

کله چې( د خپل قوم د ایمان نه راوړلو له امله مایوس، او د الله تعالی بې اجازې یې تبلیغ او دعوت پریښود او) له سپرلیو نه د ډکې کښتۍ په لور وتښتید.

فَسَاهَمَ فَكَانَ مِنَ ٱلۡمُدۡحَضِينَ ﴿١٤١﴾

( نو کله چې کښتۍ په دریاب کې له حرکته پاتې او په چورلیدو شوه، سپرلیو فیصله وکړه چې د هر مسافر په نوم دې قرعه واچول شی او د هر چا په نوم چې قرعه راووزی، هغه به له خپل باداره تښتیدلی وی او باید له کښتۍ وغورزول شی، درې ځل) قرعه د یونس علیه السلام په نوم راوختله او( سمدلاسه دریاب ته وغورزول شو).

فَٱلْتَقَمَهُ ٱلْحُوتُ وَهُوَ مُلِيمٌ ﴿١٤٢﴾

نو لوی کب له ستونی تیر کړ په داسې حال کې چې ملامت هم و .

فَلَوْلَآ أَنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلْمُسَبِّحِينَ ﴿١٤٣﴾

که( د کب په خیټه کې یې) د الله تعالی ثنا او تسبیح( لا اله الا انت سبحانک انی کنت من الظالمین) نه وی ویلی.

لَلَبِثَ فِى بَطْنِهِۦٓ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿١٤٤﴾

بې له شکه به تر قیامته هم هلته پاتې و.

۞ فَنَبَذْنَٰهُ بِٱلْعَرَآءِ وَهُوَ سَقِيمٌ ﴿١٤٥﴾

نو د ناروغی او کمزورۍ په حال کې مو وچې ځمکې ته وروغورزاوه.

وَأَنۢبَتْنَا عَلَيْهِ شَجَرَةً مِّن يَقْطِينٍ ﴿١٤٦﴾

او د کدو ونه مو د هغه له پاسه رازرغونه کړه( چې سیوری یې ورباندې وغوړید).

وَأَرْسَلْنَٰهُ إِلَىٰ مِا۟ئَةِ أَلْفٍ أَوْ يَزِيدُونَ ﴿١٤٧﴾

او بیا مو ( له روغیدو وروسته دالهی وحې د ابلاغ لپاره) څه د پاسه سلو زرو تنو لرونکی قوم ته واستاوه.

فَـَٔامَنُوا۟ فَمَتَّعْنَٰهُمْ إِلَىٰ حِينٍ ﴿١٤٨﴾

نو هغوی پرې ایمان راوړ، او مونږ هم په دغه قوم تر یوه ټاکلی وخته خپل نعمتونه ولورول.

فَٱسْتَفْتِهِمْ أَلِرَبِّكَ ٱلْبَنَاتُ وَلَهُمُ ٱلْبَنُونَ ﴿١٤٩﴾

(بې عقله مشرکان او د عربو ځینې قبایل وایی چې پرښتې د الله تعالی لونړه دی) ویې پوښته چې آیا لونړه به د الله تعالی لپاره وی او ځامن به د دوی حق وی؟

أَمْ خَلَقْنَا ٱلْمَلَٰٓئِكَةَ إِنَٰثًا وَهُمْ شَٰهِدُونَ ﴿١٥٠﴾

آیا دوی حاضر وو چې مونږ پرښتې په ښځینه جنس پیدا کولې؟

أَلَآ إِنَّهُم مِّنْ إِفْكِهِمْ لَيَقُولُونَ ﴿١٥١﴾

بې له شکه چې هغوی له ځانه دروغ جوړوی.

وَلَدَ ٱللَّهُ وَإِنَّهُمْ لَكَٰذِبُونَ ﴿١٥٢﴾

**( او وایی چې) الله تعالی اولاد لری، بیشکه چې دوی دروغجنان دی.**

أَصْطَفَى ٱلْبَنَاتِ عَلَى ٱلْبَنِينَ ﴿١٥٣﴾

**آیا( الله تعالی) لوڼو ته په ځامنو ترجیح ورکوی؟**

مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ ﴿١٥٤﴾

**څه درباندې شوی، څه ډول( غیرعاقلانه) حکم کوئ؟**

أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿١٥٥﴾

**آیا( له حقایقو) پند نه اخلئ؟**

أَمْ لَكُمْ سُلْطَٰنٌ مُّبِينٌ ﴿١٥٦﴾

**آیا( د خپلې دغې ادعا د اثبات لپاره) کوم مؤثق دلیل لرئ؟**

فَأْتُوا۟ بِكِتَٰبِكُمْ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿١٥٧﴾

**که رښتینی یاست د خپلې ادعا د ثبوت لپاره خپل کتاب راوړاندې کړئ.**

وَجَعَلُوا۟ بَيْنَهُۥ وَبَيْنَ ٱلْجِنَّةِ نَسَبًا ۚ وَلَقَدْ عَلِمَتِ ٱلْجِنَّةُ إِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ ﴿١٥٨﴾

**او( دغه جاهل مشرکان) د الله تعالی او پیریانو ترمنځ د نسب او خپلوۍ ډندورې هم غږوی( او وایی الله تعالی د جنیاتو زوم دی) په داسې حال کې چې جنیات پخپله ځانونه پیژنی چې دوی( د الله تعالی مخلوق دی او د قیامت په ورځ د حساب کتاب لپاره) احضاریدونکی دی.**

سُبْحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿١٥٩﴾

**پاک او مبرا دی د الله تعالی ذات( د مشرکانو له ګستاخانه) توصیفاتو څخه.**

إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴿١٦٠﴾

**خو د الله تعالی مخلص بندګان( له دغه ډول مشرکانه خبرو نه ) ډېره کوی(او له همدې امله ورسره د تلپاتې جنت وعده شوې ده).**

فَإِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ ﴿١٦١﴾

**( ای مشرکانو!) تاسو او ستاسو(باطل او خودساخته) خدایان،**

مَآ أَنتُمۡ عَلَيۡهِ بِفَٰتِنِينَ ١٦٢

**هیڅکله هم نشی کولی( رېښتینی مؤمنان د الله تعالی له عبادت نه په زور او جبر) بې لارې کړی.**

إِلَّا مَنۡ هُوَ صَالِ ٱلۡجَحِيمِ ١٦٣

**البته دوزخ به د هغو کسانو په برخه وی (چې پخپله خوښه ستاسو د دسیسو او چلوټو په لومو کې ښکیل او بې لارې شی).**

وَمَا مِنَّآ إِلَّا لَهُۥ مَقَامٞ مَّعۡلُومٞ ١٦٤

**او (پرښتو وویل چه مونږ د الله تعالی مخلوق یو او د هغه له امر نه د تجاوز او تخلف جرآت نه لرو بلکه ) زمونږ د هر یو لپاره یو ځانګړی مقام ټاکل شوی دی.**

وَإِنَّا لَنَحۡنُ ٱلصَّآفُّونَ ١٦٥

**او مونږ ( د الهی فرمانونو او احکامو د تطبیق لپاره) صف تړلی ولاړ یو.**

وَإِنَّا لَنَحۡنُ ٱلۡمُسَبِّحُونَ ١٦٦

**او مونږ( د خپل رب) تسبیح ویونکی یو.**

وَإِن كَانُواْ لَيَقُولُونَ ١٦٧

**او( عربانو د پیغمبر له بعثت نه وړاندې په ټینګه) ویل:**

لَوۡ أَنَّ عِندَنَا ذِكۡرٗا مِّنَ ٱلۡأَوَّلِينَ ١٦٨

**چې که مونږ ته د پخوانیو( آسمانی کتابونو په شان) کتاب رالیږل شوی وی،**

لَكُنَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلۡمُخۡلَصِينَ ١٦٩

**نو مونږ به بې له شکه د الله تعالی، پاک او مخلص بندګان وی.**

فَكَفَرُواْ بِهِۦۖ فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ ١٧٠

**(خو کله چې مو د دوی د لارښوونې لپاره قرآن نازل کړ، انکار یې ترې وکړ او) کافران شول، نو زر ده چې (د خپل کفر ناوړه انجام او عاقبت ووینی او) پوه شی.**

وَلَقَدۡ سَبَقَتۡ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا ٱلۡمُرۡسَلِينَ ١٧١

**او مونږ د خپلو استول شویو بندګانو (پیغمبرانو) پحقله قاطعانه فیصله صادره کړې،**

إِنَّهُمۡ لَهُمُ ٱلۡمَنصُورُونَ ١٧٢

( او هغه دا چې په ټولو چارو کې به) له هغوی سره مرسته کیږی.

وَإِنَّ جُندَنَا لَهُمُ ٱلۡغَٰلِبُونَ ١٧٣

او زمونږ پوځونه( په کفارو او مشرکینو) هرو مرو بریالی کیدونکی دی.

فَتَوَلَّ عَنۡهُمۡ حَتَّىٰ حِينٖ ١٧٤

نو( ای پیغمبره! نور هم) تر څه وخته، له دوی نه مخ ستون کړه( او د گستاخانه اعمالو او خبرو په مقابل کې یې هیڅ غبرگون مه ښکاره کوه).

وَأَبۡصِرۡهُمۡ فَسَوۡفَ يُبۡصِرُونَ ١٧٥

او( په پوره صبر او استقامت د دوی حال ته) گوره، او دوی به هم زر وويني(د خپلو اعمالو سزا).

أَفَبِعَذَابِنَا يَسۡتَعۡجِلُونَ ١٧٦

آیا( کافران) په بیړه زمونږ د عذاب غوښتونکی دی؟

فَإِذَا نَزَلَ بِسَاحَتِهِمۡ فَسَآءَ صَبَاحُ ٱلۡمُنذَرِينَ ١٧٧

خو د تنبیه کیدونکو لپاره به( یو بد مرغه) سهار هغه وی چې زمونږ عذاب د دوی دروازې وټکوی.

وَتَوَلَّ عَنۡهُمۡ حَتَّىٰ حِينٖ ١٧٨

او ( ای پیغمبره په تاکید سره درته وایو چې) تر څه وخته له دوی نه مخ واړوه.

وَأَبۡصِرۡ فَسَوۡفَ يُبۡصِرُونَ ١٧٩

او وگوره چې دوی (د خپلو گناهونو سزا) وويني.

سُبۡحَٰنَ رَبِّكَ رَبِّ ٱلۡعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ١٨٠

پاک او مبری دی ستا عزتمند رب له ټولو هغو توصیفاتو څخه چې( کافران او مشرکان) یې ورته منسوبوی.

وَسَلَٰمٌ عَلَى ٱلۡمُرۡسَلِينَ ١٨١

او سلام دې وی په مرسلینو.

وَٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٨٢﴾

**او ځانګړې دی تولي ستايني او غوره صفات الله تعالی ته چې رب العالمين دی.**

**« تمت سورة الصافات بفضل الله و رحمته»**

**====================**